# اُمَّت مسلمه


## آخري اُمَّت ولے؟

**10-August-2023**

هفته وراه د سنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



په 10 اګست 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# اُمَّت مسلمه آخري اُمَّت ولے؟

**پیشکش**

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

صحابـئ رسول حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د يو ځل واقعه ده چې د سحر په وخت د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نور نه ډك مخ باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابهٔ كرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان د دې وجه اوپوښتله، نو اوئې فرمائيل: الله پاک پيغام راليږلے دے چې: اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستا كوم اُمَّتي چې په تاسو باندې يو ځل درود شريف اولولي، زه به د هغه د پاره 10 نيكئ ليكم، د هغه 10 ګناهونه به ورانووم، 10 درجے به ورله اوچتووم او دومره [ډير] به پرې رحمت ليږم.[1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو ملاتړ وئيلے شي، هغوئي د هر بے خبره خبر ساتونكي دي، په هغوئي دې درود او سلام وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... مُسْنَدِ اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

د مُعجَمِ کَبِير حديثِ پاک دے: نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِه د مومن نيت د هغه د عمل نه بهتر دے. [1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه ښه نيتونه [مسلمان] جنت ته رسوي. راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ، زه نيت کووم، تاسو که په زړه کښې اراده لرئ نو د اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! وئيلو سره د دې اظهار اوکړئ: ❀ عِلمِ دين به زده کووم ❀ پوره بيان به اورم ❀ په اَدَب به کښينم ❀ د بيان اهمې نکتې به ليکم ❀ څه چې اورم، کور ته د تللو سره به کور والؤ، بچوته، دوستانو خپلوانو ته د وئيلو سره به د عِلمِ دِين خپرولو ثواب ګټم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د 89 سن هجرئ خبره ده، د سرانديپ (اوسنئ سري لنکا) د علاقے نه يو قافله د سمندر په لاره د عرب په لور روانه شوه، په دې کښې مسلمانان هم وو، کوم چې د حج يا عمرې کولو په اراده باندې روان شوي وو، په دوئي کښې مسلماناني زنانه هم شاملې وې، دا قافله چې کله د سندھ د سمندر په خوا تيريدله نو په دوئي باندې يو څو ډاکوانو حمله اوکړه، د دوئي ټول ساز او سامان ئې لوټ کړو او خلق ئې د قيديانو جوړولو سره بوتلل.

دا قيديان په دَيبُل نومې يوه قلعه کښې اوساتلے شول. چې کله دا خبره د هغه وخت مسلمان بادشاه ته اورسيدله نو هغه فوراً د دوئي د را آزادولو د پاره کوشش شروع کړو، هغه وخت د سندھ بادشاه راجه داهِر وو کوم چې مسلمان نه وو، هغه چې کله د قيديانو

[1] ...معجم کبير، جلد:6، صفحه:185، حديث:5942۔

په څه طريقه باندې په آزادولو راضي نه شو نو يو 17 کلن ځلمے حضرت محمد بن قاسِم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د يو لوئے لښکر سره را اوليږلے شو، حضرت محمد بن قاسِم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دَيبُل ته را اورسيدلو، ډيرې ورځے جنګ روان وو، آخر دَيبُل قلعه فتح کړے شوه، قيديان آزاد کړے شول.

د دَيبل قلعه د قيد خانے چې کوم نګران وو، هغه د مسلمانانو قيديانو سره ورځې شپې تيرې کړې وې، د هغوئي اخلاق، د هغوئي د عبادت انداز وغيره هغه په خپلو سترګو ليدلي وو او دے د هغوئي نه ډير متاثره شوے وو، کوم وخت چې د مسلمانانو لښکر دَيبُل قلعه فتح کوله،د قيد خانے هغه نګران حضرت محمد بن قاسم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته وړاندې کړے شو، هغوئي هغه ته د اسلام راوړلو دعوت ورکړو، دا ګس د مسلمانانو د اخلاقو، انداز او عادتونو نه هسې هم متاثر شوے وو، نو هغه فوراً کلمه اووئيله او مسلمان شو.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا دي د مسلمانانو ښکلي اخلاق، ښکلے کردار...!! د کومو د ليدلو سره چې به غير مسلمه کلمه لوستله. دا صرف د يوے قيد خانے د نګران خبره نه ده، محمد بن قاسم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې کله سندھ فتح کړو نو د هغه علاقے ظاهري نقشه اګرچه هم هغه وه خو د دې ځائے انداز، د دې ځائے د اوسيدونکو عادتونه او طور و طريقے او اخلاق بدل شوي وو، دغه دَيبُل نومې قلعه کومه چې مخکښې د کُفر و شرک اډه وه، وروستو د عِلمِ دِين ډير لوئے مرکز جوړ شو، دلته ډير لوئے لوئے عالمَان، مُحدِّثين او نيک خلق پيدا شول، د دې نه علاوه په ټول سندھ کښې علمِ دين خور شو، دلته ډير لوئے لوئے عالمَان پيدا شول، تر دې چې د حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په

---

[1]... محمد بن قاسم اور اس کے جانشین، صفحه: 29 تا 39 خلاصةً۔

شان اوچتې مرتبې والا د ولیٔ کامِل یو استاذ اَبُو علي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هم سندهے وو، د هغه نه هغوئي د تصوف عِلم زده کړو.[1] ملتان کوم ته چې اوس مَدِينَةُ الاَوۡلِيَاء وئیلے شي، زمونږ د ښکلي ملک پاکستان مشهور ښار دے، د سنده فتح کیدو نه مخکښې دا د غیر مسلمو یو اهم مرکز وو، لکه څنګه چې نن سبا مونږ د حج د پاره مکې مکرمې ته ځو، غیر مسلمه به د خپل مذهبي تهوار [یعني اخترونو] ادا کولو د پاره ملتان ته راتلل خو کله چې محمد بن قاسِم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ملتان فتح کړو نو د دې نه پس د مسلمانانو په دورِ حکومت کښې ئې انداز څه شوے وو؟ د تاریخ په کتابونو کښې لیکلي دي: په ملتان کښې د عُلُومِ قرآن ډیر رغبت وو، دلته به ډیر لوئے لوئے قاریان وو، د ملتان په بازارونو کښې به زنانه هډو په نظر نه راتللې، خلقو به د شرابو او بدکارئ وغیره نوم هم نه خوښولو، د تجارت انداز بدل شوے وو، په اخستلو او خرڅولو کښې دروغ وئیل، په ناپ تول کښې کمے کول، ټګي کول یعني دوکه ورکول دا ټول ګناهونه د نشت برابر وو.[2]

سُبۡحٰنَ الله! دا دي د مخکښینو مسلمانانو ښکلي اخلاق او کردار...!! دې باکرداره، با اخلاقه خلقو چې به په کومه زمکه باندې قدم کیښودو، د هغوئي قسمت به ئې ښه کولو، د هغه ځائے ګناهونه به ختمیدل، د معاشرې نه به ګناهونه ختمیدل او په هر کور کښې به د نیکو سپرلي راتلل.

## پاکستان د الله پاک ډیر لوئے نعمت دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! 3 ورځې پس 14 اګست دے، دا به اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيم! د

[1]... محمد بن قاسم اور اس کے جانشین، صفحه: 93 بتغیر قلیل۔

[2]... محمد بن قاسم اور اس کے جانشین، صفحه: 103 و 87 بتغیر قلیل۔

پاکستان 76 کلیزه یعنی سالگره وي، الله پاک دې زمونږه خوږ وطن سلامت اوساتي، ښاد او آباد دې اوساتي، دا دې د بد نظرو نه محفوظه اوساتي. ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! پاکستان د الله پاک یو ډیر لوئے نعمت دے ❁ دا آزاد اسلامي ملک دے، شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: په اسلامي حکمونو باندې د عمل کولو په لحاظ سره چې څومره آزادي په پاکستان کښې ده، دومره آزادي مې په بَل یو ملک کښې نه ده لیدلې ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! په پاکستان کښې ډیر جُماتونه دي، دلته کوڅه په کوڅه، په محله محله کښې جُماتونه موجود دي ❁ پاکستان د حاجیانو ملک دے، هر کال حج کښې ډیر لوئے شمیر د پاکستاني عاشقانِ رسول هم وي ❁ پاکستان د حفاظِ کرامو ملک دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږ په ملک کښې په لکونو حافظان موجود دي ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! پاکستان د اولیائے کرامو زمکه ده، په زرګونو اولیائے کرام په دې پاکه زمکه کښې آرام فرمائي ❁ پاکستان کښې داتا حُضُور دے ❁ پاکستان کښې بابا فرید دے ❁ پاکستان کښې عبد الله شاه غازي دے ❁ پاکستان کښې بهاءُ الدین زکریا ملتاني دے ❁ پاکستان کښې شاه رُکنِ عالَم دے ❁ پاکستان کښې شهباز قلندر دے ❁ پاکستان کښې بابا بلهے شاه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم او نور هم ډیر اولیائے کرام دلته آرام فرمائي ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! پاکستان د علمائے کرامو زمکه ده، ډیر زیات فیضانِ رضا تقسیموونکي جید علمائے کرام دلته آرام فرمائي ❁ مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دلته دے ❁ محدثِ اعظم پاکستان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے ❁ علامه احمد سعید کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دلته دے ❁ هم داسې اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږ دا ښکلے ملک پاکستان د اولیائے کرامو زمکه ده ❁ د علمائے کرامو زمکه ده ❁ د عاشقانِ رسول زمکه ده ❁ د ساداتِ کرامو زمکه ده، په دیني لحاظ سره، په دنیائي لحاظ سره د دې پاکې

زمکې نورې هم ډېرې زياتې خوبـئ دي. دا د الله پاک ډېر لوئے نعمت دے.

## زمونږه حالِ بے حال

دا خو د پاکستان ښه اړخونه وو، د نورو کاميابو د پاره، د ترقئ د پاره مونږ ته خپلو کمزورو اړخونو ته د نظر کولو هم ضرورت دے. علمائے کرامو، اوليائے کرامو چې په دې پاکه زمکه باندې کومې فريضې ترسره کړې دي، د هغې خو هيڅ جواب نشته، الله کريم دې هغوئي له د دې خدمتونو ډېر اجر ورکړي، په دوئي باندې دې کروړونه سلامونه وي، شپه ورځ دې پرې د رحمتونو باران وي.

خو مونږ چې د خپل ځان په باره کښې هم غور اوکړو، زمونږه د زمکې په دې حصه باندې د راتللو 76 کلونه تير شول، په مونږ کښې اکثر هغه دي، کوم چې په دې ملک کښې زيږيدلي دي، چا دلته 20 کاله تير کړي دي، چا 30، چا 40، چا 50 کاله دلته تير کړل، مونږ غور اوکړو! زمونږه دلته د پاتې کيدو سره څه تبديلي راغے؟ زه پخپله څومره نيک کارونه کووم، څومره د ګناهونو نه بچ کيږم، بيا دا سوچ هم اوکړو چې زما په ذريعه د څومره خلقو اصلاح اوشوه، معاشره د ښه والي په لور څومره تلې ده؟

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږ په ملک کښې په لکونو عاشقانِ رسول داسې دي، کوم چې نيکئ هم کوي، د نيکئ حکم هم ورکوي، د ګناهونو نه ځان هم بچ کوي او نور هم د ګناهونو نه د بچ کولو کوشش کوي خو افسوس! ډېر زيات داسې دي، د کومو انداز چې داسې نه دے. بلکه که په مجموعي طور باندې اوکتلے شي نو نن سبا مسلمانان په اخلاقي طور باندې د تنزلئ ښکار دي. مخکښې چې به مسلمانان په قيد خانه کښې هم وو نو د

هغوئي د ليدلو سره به غير مسلمه كلمه وئيله او مسلمانيدل به خو آه! خو نن سبا آزادو مسلمانانو ته د كتلو سره هم نور نه متاثره كيږي، افسوس! نن زمونږه حال بے حاله دے. حالات مو څه داسې شوي دي چې

وضع ميں تم ہو نصاریٰ تو تمدن ميں ہنود | يہ مسلماں ہيں جنہيں ديکھ کے شرمائيں يہود

## د يو غير مُسلِمه عبرتناک جواب

يو غير مسلِمه مُفكر وو، هغه ته يو مسلمان اووئيل: ته داسې صاحبِ نظر ئې، عقل والا ئې، بيا ولې نه ايمان نه راوړې؟ په دې هغه غير مسلمه داسې عبرتناک جواب ورکړو چې د دې اوريدلو سره به د هر غيرت مند مسلمان سر د شرم نه ټيټ شي، غير مسلمه اووئيل: چې زه هغه اسلام ته ګورم کوم چې د مسلمانانو په کتابونو کښې ليکلے شوے دے نو زما په زړه کښې د اسلام حق (يعني رښتيني) کيدلو ډيوې بلې شي، زما زړه غواړي چې دا مُقَدّس کتابونه ټول عمر په خپله سينه پورې اوساتم خو زه چې کله هغه اسلام ته اوګورم په کوم چې اوسني مسلمانان عمل کوي نو زما زړه د اسلام نه بيزاره شي.[1]

بن گئے تنکے نشیمن کے قفس کی تیلیاں | بَن گیا کیا؟ ہم چلے تھے کیا بنانے کے لئے

**وضاحت:** کور جوړول وو، قيد خانه جوړه شوه، مونږه څه جوړول؟ او څه جوړ شول؟ مطلب دا چې مونږه د اُلټا لارې مُسافر جوړ شو، پکار خو دا وه چې مونږه د نورو د پاره د ژوند نمونه جوړ شوي وے، زمونږ په وجه اسلام ته ترقي ميلاويدلے ولې اُلټا اوشول، خلقو زمونږ په وجه د اسلام نه نفرت شروع کړو.

---

[1]… عرفانی تقریریں، بیان: زوال کے اسباب، صفحہ: 101 بتغیر قلیل۔

## د اُمَّت مسلمه يوه ډيره اهمه ذمه واري

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ

(پاره:4، آلِ عمران:110)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: (اے مسلمانانو!) تاسو بهترين اُمَّت ئې کوم چې د خلقو (د هدايت) د پاره ظاهر کړے شو، تاسو د نيکۍ حڪم کوئ او د ګناه نه منع کوئ او په الله باندې ايمان لرئ.

امام فخرُ الدِين رازي رَحۡمَةُ الله ِعَلَيۡه فرمائي: د آيت مبارک معنیٰ دا ده چې اے مسلمانانو! په لوحِ محفوظ کښې ستاسو هم دا صفت ليکلے دے چې تاسو د ټولو نه بهتر او د ټولو نه افضل اُمَّت ئې، ستاسو لائق هم دا دي چې تاسو د دې منصب حفاظت اوکړئ![1] يعني هميشه د الله پاک او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت کوونکي او فرمانبرداره اوسئ...!!

حضرت علامه مفتي عبد المُصطفٰی اعظمي رَحۡمَةُ الله ِعَلَيۡه د دې آيت مبارک په وضاحت کښې فرمائي: د يو مسلمان د پاره د ژوند ورومبے مقصد خَيۡرُ الۡاُمَم يعني بهترين اُمَّت کيدل دي. لکه څنګه چې د ګلاب د پاره خوشبو، د لعل د پاره پړقا او د لمَر د پاره رڼا لازمي ده، هم دغه شان د يو مسلمان د پاره د خپل اعمال او افعال په لحاظ سره په ټولو اُمَّتونو کښې د ټولو نه اعلٰی، د ټولو نه افضل، د ټولو نه بهتر کيدل لازمي او ضروري دي، که عبادتونه او معاملات وي يا اخلاق او عادتونه غرض د ژوند په هره شعبه

---

[1]... تفسير کبير، پاره:4، سورۂ آلِ عمران، تحت الآية:110، جلد:3، صفحه:323۔

کنبي، د ژوند تر آخري ساعتونو پورې چې يو مسلمان صرف خير او خير وي، بس ټول ژوند د قرآن و سُنت لمَن اونيسي په صراطِ مستقيم (يعنې په نيغه لار) باندې ځي د پاره د دې چې نور قومونه د مسلمانانو د ليدلو سره دا اووائي چې[1]

يہی وہ ہیں کہ جن کے واسطے خَتمُ الرُّسُل آئے | انہی پر ختم ہے "خَیرُ الاُمَمْ" کی جلوہ سامانی

**وضاحت:** دا هغه خوش قسمته اُمَّت دے، د کوم د هدايت د پاره چې الله پاک خپل د ټولو نه محبوب نبي، خاتمُ النَّبِيّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را اوليږو، دې اُمَّت ته د **خَيرُ الاُمَم** لقب ورکړے شوے دے.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا ده د يو مسلمان اَوَّلينَ ذِمَّه واري چې مسلمان هميشه د خَيرُالاُمَم يعني بهترين اُمَّت جوړيدو سره پاتې شي. يقيناً چې څوک بهترين وي، هغه آئيډيل هم وي او څوک چې آئيډيل وي، هغه د بل چا نقل نه کوي، نور خلق په هغه پسې روان وي، څکه داسې کيدل پکار دي چې مسلمان داسې جوړ شي چې نور قومونه په دوئي پسې روان شي، د مسلمانانو اَخلاق داسې اعلیٰ وي چې نور قومونه د مسلمانانو نه اخلاق زده کړي، د مسلمان کردار داسې اعلیٰ وي چې نور قومونه د کردار د بهترئ د پاره د دوئي صحبت خپل کړي، د يو مسلمان عادتونه، د هغه کارونه، د هغه خبرې، طور و طريقے، چال چلن داسې بهتر وي چې هغه آئيډيل جوړ کړے شي، د هغه پيروي اوکړے شي، نور قومونه د هغوئي په کردار، اخلاقو او عادتونو رشک اوکړي او د هغوئي په ليدو سره ژوند زده کړي.

خو افسوس! نن سبا حالات اُلټا دي، خَيرُالاُمَم (بهترين اُمَّت) مونږه يو، پکار خو دا وه چې

[1] ...عرفانی تقریریں، بیان: زوال کے اسباب، صفحه:99 بتغير قليل۔

مونږه د نورو د پاره آئيډيل جوړ شوي وے، مونږه نور قومونه خپل آئيډيل جوړ کړه، پکار خو دا وه چې نورو قومونو زمونږ نقل کولے خو مونږه نقليان جوړ شو، مونږ د نورو نقل شروع کړو، په چال چلن کښې د کافِرانو نقل، په تعليم کښې د کافِرانو نقل، په اُصُول و قوانينو کښې د کافِرانو نقل، تر دې پورې چې په پيزار او جامو اخستلو او په خوراک څښاک کښې هم د نورو قومونو نقل کولے شي، صَد اَفسوس! نن مسلمان قرآن نه زده کوي، د کافِرانو فلسفې زده کوي، د خپل آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سيرت ته نه ګوري، د کافِرانو انداز خپلوي.

| | |
|---|---|
| وائے ناکامی متاعِ کارواں جاتا رہا | کارواں کے دِل سے اِحساسِ زیاں جاتا رہا |

**وضاحت:** آه! زمونږ ساز و سامان (مثلاً عزت، ترقي، کاميابي، عروج وغيره) هر څه تباه او بربادېږي او مصيبت خو دا دے چې زمونږ د نادانانو سره د دې تباهئ هډو احساس نشته.

**اے عاشقانِ رَسُول!** زمونږه ذِمه داري ده چې د خَيرُالاُمَم (بهترين اُمَّت) چې کوم اعزاز مونږ له رَبِّ کائنات راکړے دے، مونږه د دې اعزاز قدر اوکړو، مونږه واقعي چې د خَيرُالاُمَم (بهترين اُمَّت) جوړېدو سره پاتې شو، مونږ د نورو نقل اونکړو، بلکه د قرآن و سُنَّت تعليم حاصل کړو، په دې باندې عمل اوکړو، د خپل آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سيرت عملي طور خپل کړو، کاش! مونږه د سُنتو نمونے جوړې شو.

| | |
|---|---|
| یامصطفٰے! گُناہوں کی عادَتیں نکالو | جذبہ مجھے عطا ہو سنّت کی پیروی کا[1] |

## د اُمَّت مسلمه اهميت او فضيلت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** يو څو ورځې پس جشنِ آزادي راتلونکې ده. په دې

[1] ... وسائل بخشش، صفحه: 177۔

موقع باندې دا ضروري ده چې مونږه خپل اهميت اوپيژنو، مونږه څوک يو؟ او ولې يو؟ په دې باندې غور اوکړو.

لږ په خپل اهميت نظر واچوئ! د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې د الله په نبي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې تورات شريف نازل شو، هغوئي د دې خوږ آسماني کتاب تلاوت اوکړو نو په دې کښې ئې د يو اُمَّت فضيلتونه اولوستل، د دې فضيلتونو لوستلو سره هغوئي په بارګاهِ الٰهی کښې عرض اوکړو: ياالله پاک! په تورات کښې د يو اُمَّت ذِکر دے، هغه به (د دنيا په لحاظ سره) آخري خو (په نيک اعمالو کښې) د ټولو نه وړاندې وي، ياالله پاک! هغه زما اُمَّت جوړ کړې. الله پاک اوفرمائيل: تِلْكَ اُمَّةُ اَحْمَد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يعني (اے موسیٰ!) دا خو زما د محبوب نبي، حضرت اَحمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے. حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام بيا عرض اوکړو: اے ياالله پاک! زه په تورات کښې د داسې اُمَّت ذِکر لولم، د کوم چې به شفاعت کولے شي، مولیٰ! دا زما اُمَّت جوړ کړې. الله پاک اوفرمائيل: تِلْكَ اُمَّةُ اَحْمَد يعني اے موسیٰ! دا خو زما د محبوب نبي حضرت احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے. حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے رَبِّ کريم! زه په تورات کښې د داسې اُمَّت ذِکر لولم، د کوم دعاګانے چې به قبلے دئ شي، ياالله پاک! دا زما اُمَّت جوړ کړې. رَبِّ کائنات اوفرمائيل: تِلْكَ اُمَّةُ اَحْمَد يعني اے موسیٰ! دا خو زما د محبوب نبي حضرت احمد مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے. حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے رَبِّ رحمٰن او رحيم! زه په تورات شريف کښې د داسې اُمَّت ذِکر لولم، د کوم کتاب (يعني قرآنِ کريم) چې به د هغوئي په سينو کښې وي او هغوئي به د دې تلاوت کوي، اے ياالله پاک! دا زما اُمَّت جوړ کړې. رَبِّ کعبه اوفرمائيل: تِلْكَ اُمَّةُ اَحْمَد يعني اے موسیٰ! دا خو زما د محبوب نبي حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے. حضرت

موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نور عرض اوکړو: اے رَبِّ کریم! زه په تورات کښې د داسې اُمَّت ذِکر لولم، کوم چې به د نیکئ پخه اراده اوکړي نو د هغوئي د پاره به یوه نیکي لیکلے شي او چې کله هغه نیک کار اوکړي نو د هغوئي د پاره به 10 نیکئ لیکلے شي، یاالله پاک! دا زما اُمَّت جوړ کړې. الله پاک اوفرمائیل: تِلْكَ اُمَّةُ اَحْمَد یعنې اے موسیٰ! دا خو زما د محبوب نبي حضرت محمد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے. کله چې حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د دې اُمَّت دومره ډیر فضیلتونه اولوستل، واوریدل او پوهه شو چې دا د احمدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت دے نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د الله کریم په بارګاه کښې عرض اوکړو: یَا رَبِّ فَاجْعَلْنِیْ مِنْ اُمَّةِ اَحْمَد یعنې اے یاالله پاک! چې اُمَّت اَحمد دومره فضیلت والا دے نو ما هم د احمدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتي جوړ کړې.[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا دے زمونږه اهمیت، زمونږه قدر، زمونږه معیار...!! لږ مونږ په خپل کردار باندې، په خپلو اخلاقو، خپلو عادتونو باندې غور اوکړو، آیا مونږه د دې فضیلتونو، د دې اهمیتونو اهلیت لرو...؟ آه! افسوس!

چه کنم قیمتے خود نمی دانے

ترجمه: آه! څه اوکړو...!! تا ته د خپل قیمت هډو پته نشته...!!

## اُمَّتِ مُسلِمه آخري اُمَّت ولے؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! چرته تاسو غور کړے دے دا اُمَّت آخري اُمَّت ولې جوړ کړے شوے دے؟ کم او زیاتو یو لاکھ 24 زره انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام تشریف راوړلو، د تولو اُمَّتونه وو، مونږه الله پاک د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت کښې پیدا کړو، دا اُمَّت

[1]... جزءفیه من احادیث الامام ابی نعیم، حدیث: 1، صفحه: 28 ملتقطًا۔

ئې آخري اُمَّت جوړ کړو، زمونږ آقا و مولٰی، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے، د هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس به تر قیامته پورې بَل نبي نه راځي او زمونږ نه پس بَل یو اُمَّت نشته، مونږه آخري اُمَّت یو، د دې نه پس به قیامت راځي. آخر په دې کښې څه حکمت دے؟ دا اُمَّت آخري اُمَّت ولې جوړ کړے شو؟

راځئ! یو څو حکمتونه اورو، د دې نه به مونږ ته خپل اهمیت معلوم شي، خپل قدر و قیمت به را ته معلوم شي، د خپل منصب او ذِمه وارو پته به را ته اولګي.

## (1): وړومبے حکمت: اُمَّت مسلمه ئې ګواه جوړ کړو

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ

(پاره:2، البقرة:143)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او هم دغه شان مونږه تاسو بهترین اُمَّت جوړ کړئ د پاره د دې چې تاسو په خلقو باندې ګواه جوړ شئ.

دا د اُمَّتِ مسلمه د آخري اُمَّت کیدو حکمت دے، که اُمَّت وړومبے اُمَّت جوړ کړے شوے وے نو ظاهره ده، دې اُمَّت به د ځان نه وروستو په راتلونکو ګواهي څنګه ورکولے شوه، ځکه دا اُمَّت آخري اُمَّت جوړ کړے شو د پاره د دې چې دا اُمَّت په مخکښینو اُمتونو باندې ګواه شي.

## د قیامت په ورځ د اُمَّتِ مسلمه ګواهي

په بخاري شریف کښې حدیثِ پاک دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د قیامت په ورځ به حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام را اوبللے شي، هغه به وائي: لَبَّيْكَ يَارَبِّ! اے الله پاک زه حاضر یم. د هغه نه به پوښتنه کولے شي: آیا تاسو زمونږه

حکمونه خپل اُمَّت ته اورسول! هغه به عرض کوي: آو جي! مولٰی! ما حکمونه اورسول. بیا به د هغوئي د اُمَّت نه پوښتنه اوکړے شي: آیا تاسو ته زمونږه حکمونه رسیدلے. هغه بد بخته کافِران (کومو ته چې حضرت نُوح عَلَیْہِ السَّلَام 950 کاله تبلیغ اوفرمائیلو، د قیامت په ورځ به صفا انکار اوکړي او وائي به:) مَا اَتَانَا مِنۡ نَّذِیۡرٍ مونږ ته خو څوک ویرولو والا (د الله حکمونو رسه ولو والا) نه وو راغلے. بیا به حضرت نُوح عَلَیْہِ السَّلَام ته اوفرمائیلے شي: اے نُوحه! ستاسو سره څوک ګواه شته؟ حضرت نُوح عَلَیْہِ السَّلَام به عرض کوي: آو! رَبِّ کریم! مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي اُمَّت زما ګواه دے. (بس دا اُمَّت به ګواهي ورکړي چې اے رَبِّ کریم! حضرت نُوح عَلَیْہِ السَّلَام رښتیا وائي،) دوئي (ستا) پیغام رسه ولے وو.[1]

په یو روایت کښې دي: سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د قیامت په ورځ چې به د کوم نبي عَلَیْہِ السَّلَام اُمَّت هم په هغوئي دروغ وائي (یعني وائي به چې مولٰی! دوئي ستا پیغام نه دے را رسه ولے)، مونږه به د هغوئي په حق کښې ګواهي ورکوو.[2]

## اُمَّتِ مسلمه په دُنیا کښې هم ګواه دے

د حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے: یو ځل یوه جنازه تیره شوه، صحابهٔ کرامو علیھمُ الرِّضوَان د مړ شوي [کَس] ستائینه اوکړه، په دې باندې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: وَجَبَت د ده د پاره واجب شو. بیا یوه بَله جنازه تیره شوه، د هغه په باره کښې د صحابهٔ کرامو علیھمُ الرِّضوَان تاثرات څه ښه نه وو، په دې باندې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: وَجَبَت د ده د پاره هم واجِب شو. بیا ئې اوفرمائیل: د کوم مَړي

---

[1] … بخاری، کتاب التفسیر، باب و کذلک جعلنکم امة... الخ، صفحه:1113، حدیث:4487۔

[2] … تفسیر در منثور، پاره:2، البقره، زیرِ آیت:143، جلد:1، صفحه:349۔

په حق کښې چې تاسو د خير ګواهي ورکړئ، د هغه د پاره جنت واجِب دے او د کوم په حق کښې چې تاسو د بدئ ګواهي ورکړئ د هغه د پاره دوزخ واجب دے، اَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِی الْاَرْضِ تاسو په زمکه د الله پاک ګواه ئې.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَللّٰهُ اَكبَر! دا دے زمونږه معيار، زمونږه قدر، زمونږه اهميت...!! دا اُمَّت به د قيامت په ورځ د انبيائے کرامو عليهمُ السّلام په حق کښې ګواهي ورکوي، په دُنيا کښې چې دا اُمَّت د چا په حق کښې ګواهي ورکړي، د هغه د پاره جنت واجب کولے شي. دا څومره د اهميت خبره ده...!! اوس مونږه لږ غور اوکړو! آيا مونږه د دې لائق يو؟ دا منصب کوم چې اُمَّتِ مسلمه له ورکړے شوے دے، آيا مونږه خپل ځان د دې منصب لائق جوړوو؟ آه! افسوس!

ہم جانتے ہیں مجرم کے سب ٹھکانوں کو
شریکِ جُرم نہ ہوتے تو مخبری کرتے

د مخکښينو اُمَّتونو څه څه بدئ وې؟ د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام قوم به د هغوئي ګستاخيانې کولې، آيا نن دلته ګستاخيانې نه کيږي؟ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام به هغوئي پوهه کول، هغوئي به د خبرې منلو د پاره نه تياريدل، آيا مونږه د خپل نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرامينو باندې عمل کوونکي يو؟ د حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام قوم سرکش وو، آيا نن دلته په پوره زړه ورتيا سره ګناه نه کيږي. د حضرت صالِح عَلَيْهِ السَّلَام قوم به په خپل طاقت باندې، په خپلو مهارتونو باندې، په خپلو لويو لويو ودانو [کورونو] باندې فخر کولو، د غرور او تکبر په آفت کښې اخته وو، آيا نن سبا دلته د سائنس او ټيکنالوجئ بنياد جوړولو سره ديني

[1]... مسلم، كتاب الجنائز، باب فيمن يثنى عليه...الخ، صفحه: 341، حديث: 949 ملتقطًا۔

خبرې شاته نه غورځولے کيږي، آيا خلق دا نه وائي چې دنيا سپوږمۍ ته ختلې ده او تاسو اوس هم د لمُونځ او روژې خبرې کوئ؟ د حضرت لُوط عَلَيْهِ السَّلَام په قوم کښې فحاشي، بے حيائي او بدکاري عامه وه، آيا دا څيزونه نن سبا په مونږ کښې نشته؟ د حضرت شعيب عَلَيْهِ السَّلَام قوم به په ناپ تول کښې کمے کولو، آيا نن سبا دلته په ناپ تول کښې کمے نه کيږي؟ په اخستلو او خرڅولو کښې دوکه نه کيږي؟ د حضرت شعيب عَلَيْهِ السَّلَام قوم به په لارو کښې د کښيناستلو سره خلق بے لارې کول، آيا نن سبا دلته داسې نه کيږي؟ په لارو کوڅو کښې د کښيناستلو سره، د فيس بُک، يوټيوب او سوشل ميډيا وغيره په ذريعه باندې خلق نه بے لارې کولے کيږي؟ حضرت شعيب عَلَيْهِ السَّلَام قوم خو باقاعده طور دا وئيلي وو:

قَالُوْا یٰشُعَیْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا یَعْبُدُ اٰبَآؤُنَاۤ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِیْۤ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ؕ

(پاره:12، هود:87)

مفهوم ترجَمهٔ كنزُ العرفان: (قوم) اووئيل: اے شعيب! آيا ستا لمُونځ تا ته دا حکم کوي چې مونږه د خپل پلار نيکه خدايان پريږدو يا په خپل مال کښې د خپلې خوښې مطابق عمل نه کوو.

لږ په انصاف سره اووائې! نن سبا چې د سودي لين نه، په اخستلو او خرڅولو کښې د دوکې نه منع کولے شي نو بالکل هم دغه خبره نن د لبرل اِزم په نوم باندې نه کيږي؟ خلق نه وائي چې مولانا صاحب د تجارت د علم نه خبر نه دے،ده له پکاردي چې د خپلو لمُونځونو او روژو تر حده پورې اوسي.

دا هر څه دلته زمونږ په معاشره کښې هم دي. بيا اووائې! چې مونږه هم دا هر څه کوو، کوم چې مخکښينو اُمَّتونو کول، بيا دا منصب کوم چې اُمَّتِ مسلمه له ورکړے شو: په

مخکښينو اُمَّتونو باندې ګواه کول، مونږه به په دې منصب باندې ځنګه پوره کيږو؟

ياد ساتئ! د فاسِق (يعنې د ښکاره ګناه کوونکي) ګواهي نه قبليږي. لمُونځ پريښودَل فِسق دے، روژې نه نيول فِسق دے، په ناپ تول کښې کمے کول، مور پلار تنګول، نورو ته تکليف رَسَوَل، دروغ وئيل، د سود لين دين کول، شراب څښل وغيره دا هر څه فسق دے، د ګناه کارونه دي او مُفَسِّرِينِ کرامو دا ليکلي دي چې د قيامت په ورځ چې به اُمَّتِ مسلمه کومه ګواهي ورکوي، د دې نه مراد صرف د دې اُمَّت متقيان او پرهيزګاران خلق دي،[1] کوم چې لمُونځونه هم کوي، روژې هم نيسي، د ګناهونو نه هم بچ کيږي، تقوٰی هم خپلوي، صرف دغه خلق به د دې ګواهۍ ورکولو اهل وي. کوم چې ګنهګاران دي، فاسقان او فاجران دي، هغوئې پخپله د ګناهونو کولو سره خپل ځان د دې منصب د پاره نا اهله کړے دے.

اے عاشقانِ رَسُول! د غور خبره ده! څومره عظيم منصب دے او مونږ صرف د دُنيا د محبت په وجه، د مال، د نفس د خواهشاتو په وجه مونږ خپل ځان د دې منصب د پاره نا اهل کړو، دا څومره د نقصان خبره ده...؟ ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه خپل کردار صحيح کړو، خپل انداز، خپل اخلاق، خپل اعمال او خپلې طور وطريقے صحيح کړو د پاره د دې چې دا عظيم منصب کوم چې دې اُمَّت ته عطا کړے شوے دے، مونږه د دې منصب لائق جوړ شو.

مِٹا دے ساری خطائیں مری مِٹا یارب
مُحِیط دل پہ ہوا ہائے نفسِ امّارہ
کریں نہ تنگ خیالاتِ بد کبھی، کر دے

بنا دے نیک بنا نیک دے بنا یارب
دِماغ پر مِرے ابلیس چھا گیا یارب
شُعُور و فکر کو پاکیزگی عطا یارب[2]

[1]...تفسیرِ نعیمی، پارہ:2، البقرہ، زیرِ آیت:143، جلد:2، صفحہ:21 بتغیر قلیل۔

[2]...وسائل بخشش، صفحہ:78، ملتقطًا۔

## (2) دويم حکمت: عبرت اخستونکي اُمَّت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا اُمَّت عبرت اخستونکي اُمَّت جوړ کړے شوے دے. په يو ځائے کښې الله پاک فرمائي:

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا ۙ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِی الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ فِی الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾

(پاره:11، يونس:13-14)

**مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان:** او بے شکه مونږ ستاسو نه مخکښې قومونه هلاک کړل کله چې هغوئي ظلم اوکړو او هغوئي ته زمونږ رسول د ښکاره دليلونو سره تشريف راوړو او هغوئي داسې نه وو چې ايمان ئې راوړے وے. مونږه داسې مجرمانو له بدله ورکوو. بيا مونږه د هغوئي نه پس تاسو په زمکه جانشين جوړ کړئ د پاره د دې چې مونږه اوګورو چې تاسو څنګه کار کوئ؟

يعنې اے اُمَّتِ مسلمه! مخکښې ډير اُمَّتونه تير شول، هغوئي ته رسولان اوليږلے شول، هغوئي ته ښه واضحه حکمونه بيان کړے شول خو هغوئي په خپلو ځانونو باندې ظلم اوکړو، نافرمانئ ئې اوکړې، مونږه هغوئي هلاک کړل، بيا تاسو په زمکه باندې خليفه جوړ کړے شوئ د پاره د دې چې اوګورو چې تاسو د هغه اُمَّتونو په شان عمل کوئ يا د الله پاک فرمانبرداري کوئ.

اَللهُ اَکبَر! دا دے د دې اُمَّت د آخري اُمَّت جوړولو يو حکمت...!! علمائے کرام فرمائي: په مخکښينو اُمَّتونو کښې به خلقو څنګه څنګه ګناهونه کول، څنګه به ئې دنيا له په آخرت باندې ترجيح ورکوله، څنګه څنګه سرکشئ به ئې کولې، څنګه الله پاک هغوئي

له مهلت ورکړو، هغوئي له ئي ډير ژوند ورکړو، بيا چې کله هغوئي په خپلو نافرمانو باندې کلک شول نو الله پاک څنګه په هغوئي باندې عذابونه نازل کړل، څوک ئې د طوفان په ذريعه هلاک کړل، په بعضې قوم باندې ئې کاڼي اوورول، په بعضې قوم باندې د سختې زلزلے عذاب راغے، د هغوئي طاقت، د هغوئي قوت، د هغوئي اوچتې ودانئ، د هغوئي علم، د هغوئي مهارتونه هيڅ څيز هغوئي د الله پاک د عذاب نه بچ نه کړل.

د دې ټول هر څه نه پس په آخره کښې الله پاک دا اُمَّتِ مسلمه را اوليږو، په قرآنِ مجيد کښې د مخکښينو اُمَّتونو حالات ښکاره بيان کړے شول د پاره د دې چې دا اُمَّت عبرت حاصل کړي، څه چې مخکښينو نافرمانو [خلقو] اوکړل، چې دا کار دا اُمَّت اونکړي، د هغوئي په لاره باندې لاړ نشي بلکه مخکښينو نيکانو خلقو چې کوم کارونه اوکړل، په هغوئي چې کوم کوم انعامات اوشو، دا اُمَّت په هغې باندې غور اوکړي او د نيکئ لار خپله کړي.[1] الله پاک ارشاد فرمائي:

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَانُوْا هُمْ اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّ اٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَ مَا كَانَ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿۲۱﴾

(پاره:24، المؤمن:21)

مفهوم ترجَمهٔ كنزُ العرفان: نو آيا هغوئي په زمکه کښې سفر اونکړو نو ليدلي به ئې وو چې د هغوئي نه د مخکښينو خلقو څه انجام شو؟ هغه مخکښيني خلق د قوت او په زمکه د پريښودے شوو نښو په لحاظ سره د دوئي نه زيات وو نو الله د هغوئي د ګناهونو په وجه هغوئي اونيول او د هغوئي د پاره د الله نه خلاصوونکے څوک نه وو.

[1] ...حسن التنبه لما ورد في التشبه، باب بيان الحكم الظاہرة في تاخير ہذه الامة، جلد:1، صفحه:108 مفصلاً

اے عاشقانِ رَسُول! دا دے د اُمَّتِ مسلمه د آخري اُمَّت کیدو حکمت...!! مونږه د عبرت حاصلولو د پاره آخري اُمَّت جوړ کړے شوي یو. اوس لږ غور اوکړئ! آیا مونږه عبرت حاصلوو؟ آه! افسوس! په مونږ باندې غفلت راخور وي، مونږه نصیحت نه قبلوو، مونږه د عبرت د نظر نه محرومه یو، د مخکښینو قومونو حالات مونږ ته په ظاهر دي، قومِ عاد څنګه هلاک شو، په قومِ ثمود باندې څنګه عذاب راغے، قومِ شعیب څنګه تباه کړے شو، مونږ دا هر څه اورو، په قرآنِ کریم کښې د دې هر څه ذِکر موجود دے، علمائے کرام ئې بیانوي خو افسوس! مونږه عبرت نه حاصلوو، د ګناه پریښودو سره د نیکئ د لار مسافر نه جوړیږو.

## د عِبرت اخستلو ترغیب

اے عاشقانِ رَسُول! قرآنِ کریم مونږ ته ځائے په ځائے د عِبرت اخستلو ترغیب راکړے دے. په سیپاره 18، سورۂ نُور، آیت: 44 کښې اللہ پاک فرمائي:

يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَ النَّهَارَ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۴۴﴾
(پاره:18، النور:44)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: اللہ شپه او ورځ بدلوي، بے شکه په دې کښې د لیدونکو د پاره د پوهې مقام دے.

په سیپاره 30، سورۂ نازِعات کښې د فرعون او د هغه د لښکر د غرقیدو د واقعې ذِکر کولو نه پس ئې اوفرمائیل:

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى ﴿۲۶﴾
(پاره:30، النازعات:26)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بے شکه په دې کښې د ویریدونکو د پاره ضرور عبرت دے.

اَللّٰهُ اَکۡبَر! دا د الله پاک نه ويريدونکي، اُولِی الۡاَبۡصَار (يعنې غور و فِکر کوونکي، د عبرت نظر لرونکي) دي، دا د الله پاک د نښو ليدلو سره عبرت حاصلوي، ورځ راغله، لاړه، لمر راواوختو، پريوتو، شپه راغله، تيره شوه، ستوري را اوختل، پريوتل، دا هر څه، د کائنات ذره ذره ظاهر کتاب دے، دې کښې زمونږ د پاره نصيحت دے، عِبرت دے، کاش! مونږ و يريدونکي، عِبرت اخستونکي، اُولِی الۡاَبۡصَار (يعنې غور و فِکر کوونکي، دنيا ته د عبرت په نظر سره کتونکي) جوړ شو.

## د عبرت د نظر په باره کښې د اوليائے کرامو فرامين

✿ حضرت سفيان ثوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: څوک چې دنيا ته د عِبرت په نظر ګوري او غور و فِکر کوي، هغه په زياتو نيکو کولو کښې کاميابيږي ✿ حضرت مالِک بن دينار رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: څوک چې دې دُنيا ته د عبرت په نظر نه ګوري، د آخرت فِکر نه کوي، د هغه نيکئ کمې او زړه په پرده کښې دے ✿ د حضرت حاتِم اَصَمّ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوشوه: انسان اَهۡلِ اِعۡتِبَار (يعنې عِبرت اخستونکے) څنګه جوړيږي؟ اوئې فرمائيل: کله چې هغه د دُنيا د هر څيز انجام ته نظر کوي او غور کوي چې ډير زر به دا څيز فنا شي او د دې څيز مالک به هم ډير زر قبر کښې دفن کولے شي ✿ هم د حضرت حاتِم اَصَمّ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمان دے: د چا د کور نه چې جنازه اوځي او هغه د دې نه عبرت حاصل نه کړي، هغه کَس ته د عِلم، حکمت او نصيحت هيڅ فائده نشته. [1]

## هر کور د عِبرت نښه ده

حضرت سائب عَبدي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يوه ورځ حضرت صالِح مُري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه زمونږ

[1]... تنبيه المغترين، صفحه: 57 57 بتقديم و تاخير۔

خوا له تشريف راوړو، ما پوښتنه اوکړه: اے ابو بَشر! تاسو د کوم ځائے نه تشريف راوړے دے؟ اوئې فرمائيل: زه چې د خپل کور نه راووتم نو په مختلفو ځايونو باندې راتير شوم او ستاسو خوا له راغلم، زه چې کله د فلانکي د کور په خوا راتير شوم نو د هغه کور ما ته په (زبانِ حال سره) غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے صالحه! زما نه نصيحت حاصل کړه! په ما کښې فلانکي فلانکي خلق اوسيدل، اوس هغوئي وفات شوي دي. بيا چې کله زه د فلانکي د کور خوا ته را اورسيدم نو هغه کور هم ما ته په (زبانِ حال سره) غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے صالحه! زما نه نصيحت حاصل کړه! په ما کښې به فلانکي فلانکي خلق اوسيدل، اوس هغه ټول په خاورو کښې دفن دي. حضرت ابو سائب عبدي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: هم دغه شان هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ يو يو کور شميرلو، تر دې چې زمونږ کور ته را اورسيدلو.[1]

| | |
|---|---|
| جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے | مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بُو نے |
| کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے | جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُونے |
| جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** غور اوکړئ! دې زمونږه بزرګانِ دِينو، د الله پاک نيک بندګانو به په کوم کوم انداز سره عِبرت حاصلولو. آه! يو مونږه يو ❀ د ورانو کورونو ❀ په چوڼها کښې د بَل اور ❀ د لمَر د تاؤ ❀ يخنئ، ګرمئ وغيره نه عِبرت خو غټه خبره ده ❀ زمونږه د سړکو وړاندې جنازې اوچتيږي، مونږه عبرت نه حاصلوو ❀ پخپله په خپلو لاسونو باندې مړي قبر ته کوزوو، بيا هم عبرت نه حاصلوو ❀ **فلانکے د فلانکي**

[1] ... حلية الاولياء، جلد:6، صفحه:182، رقم:8222۔

ځوي ښه روغ رَمَټ وو، ناڅاپه پرې د زړه دوره راغله او مړ شو ❁ فلانکے ځلمے په روډ ايکسيډنټ کښې وفات شو، داسې ډير خبرونه مونږه اورو، بيا هم مونږه خپل مرګ نه يادوو، عبرت نه حاصلوو. کاش! چې مونږه عبرت اخستونکي او قبر و آخرت يادوونکي جوړ شو.

دل ہائے گناہوں سے بیزار نہیں ہوتا
مغلوب شہا! نفسِ بدکار نہیں ہوتا
شیطان مُسلَّط ہے افسوس! کسی صورت
اب صبر گناہوں پر سرکار نہیں ہوتا
اے رَبّ کے حبیب آؤ! اے میرے طبیب آؤ
اچّھا یہ گناہوں کا بیمار نہیں ہوتا
گو لاکھ کروں کوشش اِصلاح نہیں ہوتی
پاکیزہ گناہوں سے کِردار نہیں ہوتا
یہ سانس کی مالا اب بس ٹوٹنے والی ہے
دل آہ! مگر اب بھی بیدار نہیں ہوتا[1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (3) دريم حِکمت: د نيکانو خلقو په لار باندې تلل

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اُمَّت مسلمه آخري اُمَّت ولې جوړ کړے شو؟ د دې يو بَل حکمت واورئ! الله پاک فرمائي:

يُرِيۡدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ وَيَتُوۡبَ عَلَيۡكُمۡ ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۲۶﴾

(پاره:5، النساء:26)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: الله پاک غواړي چې خپل حکمونه ستاسو د پاره بيان کړي او تاسو ته ستاسو نه د مخکښينو خلقو طريقے اوښائي او په تاسو باندې د خپل رحمت رجوع اوفرمائي او الله علم او حکمت والا دے.

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:163۔

علماء فرمائي: الله پاک اراده اوفرمائيله چې (د دې اُمَّت د آخري اُمَّت جوړولو سره) د دوئي د پاره قرآنِ کريم نازل کړي او په دې ذريعه د مخکښينو نيکو خلقو طور و طريقے، د هغوئي انداز، او د هغوئي عادتونه او کردار په مونږ باندې واضحه کړي (دلته به هم داسې راځي) د پاره د دې چې مونږ د نيکانو خلقو په لار باندې روان شو، داسې مونږه توبه کړو او الله پاک زمونږ توبه قبوله کړي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اُمَّتِ مسلمه آخري اُمَّت ولې جوړ کړے شو، د دې نور هم ډير حکمتونه دي، په دې کښې مونږه د يو څو د اوريدلو سعادت حاصل کړو، کاش! مونږ په دې حکمتونو د پوهيدلو کوشش اوکړو، کاش! په دې ذريعه مونږه د خپل اهميت پيژندلو سره د دې مطابق عمل کوونکي جوړ شو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی
گُناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی
میں نیچی نگاہیں رکھوں کاش اکثر
عطا کر دے شرم و حیا یاالٰہی
ہو اَخلاق اچّھا ہو کردار سُتھرا
مجھے متّقی تُو بنا یاالٰہی[2]

## جشنِ آزادي څنګه اونمانځو؟

3 ورځې پس د آزادئ ورځ ده، تولو ته پته ده چې د آزادئ په ورځ باندې زمونږ په معاشره کښې څه ماحول وي. سندرې غږيږي، شور او غوبل کيږي، شرابونه څښلے

[1] ... حسن التنبه لما ورد في التشبه، باب بيان الحكم الظاهرة في تاخير هذه الامة، جلد: 1، صفحه: 118 بتغير قليل۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 104102، ملتقطًا۔

کيږي، لوفران هلکان ون ويلنګ کوي، په سرِکونو باندې درز غوبل کولے شي. آيا 14 اګست د دې بکواس خيزونو ورځ ده؟ تاسو ته معلومه ده چې 14 اګست کومه ورځ ده؟ دا هغه ورځ ده په کومه ورځ چې مسلمانانو د آزادئ حاصلولو د پاره د خپلو ځانونو قرباني ورکړې وه، د يوے اندازې مطابق کله چې پاکستان جوړ شو، "هغه وخت 30 لاکهه مسلمانان شهيدان شوي وو." [1]

شهيد تم سے يه کهه رهے هيں، لهو همارا بهلانه دينا
قسم هے تم کو اے سرفروشو! لهو همارا بهلانه دينا
وُضو هم اپنے لهو ميں کرکے خُدا کے هاں سُرخرُو هيں ٹهرے
هم عهد اپنانباه چلے هيں، تم عهد اپنا بهلانه دينا

**اے عاشقانِ رَسُول!** 14 اګست د هغه شهيدانو د برسئ [تلين] ورځ ده، د برسئ په ورځ سندرې نه غږولے کيږي، د قرآنِ کريم لوستلو سره، د روژې نيولو سره، د فاتحه خوانئ سره خپلو شهيدانو ته، وفات شوو ته ثواب بخښلے کيږي. په 14 اګست عبادت اوکړئ، د شکرانې نفلونه اوکړئ او د پاکستان د پاره د شهيدانو مرتبے ترلاسه کوونکو ته ئې ثواب اوبخښئ.

آيا تاسو ته معلومه ده؟ د مخکښينو اُمَّتونو نيکو خلقو به د آزادئ ورځ څنګه نمانځله؟ آو جي! د آزادئ ورځ صرف د پاکستان والؤ د پاره خاص نه ده، په مخکښينو اُمَّتونو کښې هم د غلامئ نه د آزادئ ورځ نمانځلے کيدله. لکه څنګه چې د آزادئ نه مخکښې مونږه د غلامئ ژوند تيرولو، هم دغه شان بني اسرائيلو هم تر ډيرې مودے پورې د

---

[1] ...تخليقِ پاکستان ميں علماءِ اہلسُنّت کا کردار، صفحه:14۔

فرعون په غلامئ کښې وو، آخر د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام په ذريعه باندې الله پاک هغوئي له د آزادئ نعمت ورکړو، کله چې ورته د آزادئ دا نعمت ميلاو شو نو تاسو ته پته ده چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام دا ورځ څنګه نمانځلې وه؟

د **بخاري شريف** روايت کښې دي: فِرعَون په 10 محرم غرق شو، په دې ورځ باندې بني اسرائيلو ته د دې کافِر او سرکشه د غلامئ نه آزادي نصيب شوه، په دې شکرانه کښې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د 10 مُحَرَّم روژه اونيوله.[1]

سُبْحٰنَ الله! دا د آزادئ د ورځې د نمانځلو اصلي طريقه ده. الله پاک دې مونږ ټولو ته هدايت نصيب کړي، د شيطان د غلامئ نه، د نفس د غلامئ نه دې نجات را عطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یاخُدا پاک وطن کی تُو حفاظت فرما
فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما

اس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یارَبّ
مرے پیارے وَطن پاک پہ رحمت فرما

آج ہے امن وطن کا مرے پارہ پارہ
پھر مہیا مرے مولٰی! اسے راحت فرما

ہائے بد مست گناہوں میں ہوئے اہلِ وطن
یاخُدا سب کو عطا نیک ہدایت فرما

بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا
اور عطا جذبۂ پابندیٔ سُنت فرما

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِله! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي هم جشنِ آزادي لمَانځي خو د دعوتِ اسلامي انداز څانګړے دے، اَلْحَمْدُ لِله! د جشنِ آزادئ

[1]... بخاری، کتاب:الصوم، باب:صیام یوم عاشوراء، صفحه:524، حدیث:2004 بتغیر قلیل۔

په موقع مدني قافلے سفر کوي، په زرګونو عاشقانِ رسول په مدني قافلو کښې د سفر کولو سره ښار په ښار، کلي په کلي د ګرځيدو سره د نيکئ دعوت ورکوي او د بدئ نه منع کوي، پخپله هم لمُونځونه کوي، نورو ته هم د لمُونځونو دعوت ورکوي او جُمات ته ئې د راوستلو کوشش کوي، د قرآنِ کريم، د سُنَّتو فيضان عام کوي، د عشقِ رسول شمعې په زړونو کښې د روښانه کولو کوشش کولے شي، داسې عاشقانِ رسول د دين زده کولو سره، نورو ته ښائي او د حقيقي غُلامانِ مصطفٰے جوړيدو کوشش کوي او نور هم د دې لارې مسافر جوړوي.

اے عاشقانِ رَسُول! په 14 اګست سرکاري چهټي وي، هسې هم 14 اګست د ګل په ورځ دے، تاسو هم ذهن جوړ کړئ، همت اوکړئ، چې په **12، 13، 14 اګست 2023** (د خالي، اتوار او ګل) **د 3 ورځو مدني قافله کښې د سفر کولو** سعادت نصيب شي، د حقيقي غلامِ رسول جوړيدو د پاره، د آزادئ په تحريک کښې د شهيد شوو عاشقانِ رسول د ايصالِ ثواب د پاره د عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر اوکړئ او د آزادئ د نعمت شکر ادا کړئ.

## د زړه حالت ئې بدل شو

د فيصل آباد (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د دعوت اسلامي ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې د خراب کردار مالک وو، دروغ، غيبت، چغلي، د سترګو د بد نظرئ په شان ګناهونه زما د معمول حصه وه، ما مارشل آرټ زده کړے وو د کوم د طاقت په وجه چې **به ما خا مخا د خلقو سره جګړه کوله، هر نوے فيشن خپلول زما شوق وو، آه! د لمُونځونو نه دومره لرې ووم چې ما ته دا هم معلومه نه وه چې په کوم لمُونځ**

**کښې خومره رکعتونه وي.** آخر د رحمت دروازه پرانستے شوه او زما قسمت څه داسې روښانه شو چې د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي يو اسلامي ورور ما ته په مدني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، د دوست خبره مې غوږځولے نه شوه او د دريو ورځو د مدني قافلې مسافر جوړ شوم. په مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت ما ته د ژوند مقصد معلوم شو، په خپلو ګناهونو اوشرميدم، زما د سترګو نه د غفلت پرده لرې شوه، د زړه حالت مې بدل شو، هم داسې ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې مې ژوند تيرول شروع کړو.

دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے
کر سفر آئیں گے، تو سُدھر جائیں گے

آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو
اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدني قاعده موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ***Madani Qaidah*** (مدني قاعده). د دې ايپلي کيشن په ذريعه د مدني قاعدے لوستلو سره، د دې مشق کيدے شي او بنيادي تجويد زده کيدے شي. په خپل سمارټ فُون کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ! پخپله ترې هم فائده حاصله کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... وسائل بخشش، صفحه:672669۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د مِسواك كولو سُنَّتونه او آداب

**دوه فرامِينِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** دوه ركعته د مسواک کولو سره ادا کول د مِسواك نه بغير د 70 رکعتونو نه افضل دي.[2] **(2)** د مِسواک اِستعمال د خُان د پاره لازِم کړئ ځکه چې په دې کښې د خُلے صفائي (ده او دا د) الله پاك د رضا سبب دے.[3]

اے عاشِقانِ رسول! ✿ حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپه ډير ځله مسواك كولو، هر ځل د اُوده کيدلو په وخت هم او د بيداريدلو په وخت هم ✿ بغير د ښه ښه نِيَّت نه مسواك كولو سره به طبعي فائدے حاصلے شي خو ثواب به نه ميلاويږي، مثلاً د اوداسه د پاره مسواك كول وي نو داسې درے نِيَّتونه اوكړئ: د رضائے اِلٰهي

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2۔۔۔الترغيب والترهيب، كتاب:الطهارة، الترغيب في السواک، صفحه 86، حديث:18۔

3۔۔۔مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:438، ، حديث:5869۔

حاصلولو، د سُنَّت ادا كولو او د ذِكر و دُرُود د پاره د خُلے پاك كولو په غرض مسواك كووم.❀ مشائِخِ كِرام فرمائي: څوك چې د **مِسواک** عادت لري د مرګ په وخت كښې به هغه ته كلِمه وئيل نصيب كيږي ❀ د حضرت سَيِّدنا عبدُالله بِن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے: په **مِسواك** كښې **10** خوبۍ دي: **(1):** خُله صفا كوي، **(2):** اوريځ مضبوطوي، **(3):** نظر تيزوي، **(4):** بلغم لرې كوي، **(5):** د خُلې سخا بوئي ختموي، **(6):** د سُنَّت موافق دے، **(7):** د مسواک كولو سره فرښتې خوشحاليږي، **(8):** د مسواک كولو سره رَبّ رضا كيږي، **(9):** مسواک نيكۍ زياتوي او **(10):** معده صحيح كوي ❀ سيِّدنا امام شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څلور څيزونه عقل زياتوي: د فُضول [يعني بے فائِده] خبرو نه پرهيز، د **مِسواك** اِستِعمال، د نيكو خلقو صحبت او په خپل علم باندې عمل كول. ❀مِسواك په ښي لاس كښې داسې نيسۍ چې كچۍ ګوته ترينه لاندې، د مينځ درې ګوتې پرې د پاسه وي او غټه ګوته ئې په سر [د برش سره] وي ❀مِسواك په اوداسه كښې شامل نه دے، دا د اودس سُنّتِ قَبلِيه دے البَتَّه سُنَّتِ مُؤَكَّده هغه وخت دے چې په خُله كښې بدبوئي وي❀ مِسواك چې كله د استعمال قابِل پاتې نه شي نو غورزَوۍ ئې مه، ځكه چې دا د سُنَّت ادا كولو آله ده، چرته ئې په اِحتياط سره كيږدۍ يا ئې خخ كړۍ، يا څه كانړے وغيره وزن ورپورې اوتړۍ

او په سمندر کښې ئې ډوب کړئ. (1)

د سُنَّتنو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د 91 صفحو کتاب "550 سُنَّتيں اور آداب" واخلئ او اولولئ ئې. د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحه:5047۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره كم ازكم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار كوي او قَبْر كښې د داخلیدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريڪه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونڪي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريڪه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريڪه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵